## د لابراتوار مدیریت پیژندنه

د افغانســـتان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون لابراتوار د هیواد په کچه د پرمختللو لابراتوارونو له جملې څخه دی چې کولای سي د خپلو عصري ماشین الاتو، کیمیاوي موادو، مجربو استادانو او تکنیشنانو په مرسته د خاوري، اوبو او نبات عملي تجربې ترسره کړي.

د افغانســـتان د کرنیزوعلومو او تکنالوژي ملي پوهنتون د لابراتوار تر جوړېدو مخکي د تکنیشـــنانو او کارکوونکو د علمي کچي د لوړولو په موخه د خاوري، اوبو او نبات عملي تجربې د هیواد څخه بهر سرته رسېدلې، او په دې برخه کې یې اړینې زده کړې ترسره کولی. دا چې په هیواد او ملي پوهنتون کې د مجهزو لابراتوارونو د جوړېدو اړتیا ډېره احســـاســـېدله، چې د پوهنتون د رهبرۍ او پلان سره سم د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون کې د یوه عصري لابراتوار د جوړېدو کار په ۱۳۹۵ ه ش کال کې د افغان دولت او هندوستان هیواد په مالي مرســته پیل او په ه ش ۱۳۹۷ کال کې ئې د جوړېدو چاري پای ته ورســېدلې او گټې اخیستنې ته اماده سو. چې اوس ترڅو په هیواد کې د کرهنې او مالدارۍ په برخو کې شته ستونزې حل کړای شي.

**لرلیدVision**

د افغانســـتان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون مرکزي لابرتوار به د افغانســـتان په کچه یونمونه لابراتوار وي تر څو وتولني ته داسي مســـلکی کادرونه په عملی برخه کښـــي وروزي، چې د هیواد د معیارونو سره برابر خدمت وړاندي کـــــــــړي.


**رسالت Mission**

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون مرکزي لابراتوار د علمي نوښتونو، اقتصادي پرمختیا او ټولنیز پرمختګ لپاره لابراتوار دی په عملي برخه کی هڅه کوي څو د ټولنې د سوکالۍ تمرکز په علمي او موثرو تجربو باندي وکـــړي.

**هدفونه Goals**

د افغانســـــــــــتان د کـرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون د لابـراتـوار ځانگـــه د مجهز او عصري ماشین الاتـــو پـه درلـــودلـو ســـره غـواړي د څـیړنـو لمن پراخـــه او په دې توگـــــه د ملي اقتصـــــــاد په پـــــیاوړتـیا کـــي رغنده رول و لـــــوبـــوي.

# د لابراتوار مدیریت تشکیلاتي چارټ









ZN1B
PT2
PT3
5 Drops
S3
4 DROPS
PSX
FIRST AID KIT